


# د تبعیض نه کولو عمومي اعلامیه

## د معلولیت پر بنسټ د تبعیض نه کولو اعلامیه *Americans With Disabilities Act (د معلولیت لرونکو امریکایانو د قانون) 1990* او *Rehabilitation Act (بیا په پښو د درولو قانون) 1973*، د *504* برخې تر چتر لاندې

د Americans with Disabilities Act (معلولیت لرونکو امریکایانو د قانون) 1990 د دویم سرلیک او Rehabilitation Act (بیا په پښو د درولو قانون) 1973، د 504 برخې د الزماتو پر بنسټ د Washington آیالت د Department of Children, Youth, and Families (ماشومانو، ځوانانو، او کورنیو ډیپارټمنټ ,DCYF) به د خپلو خدمتونو په پروګرامونو او یا فعالیتونو کې د مشخص شویو معلولیت لرونکو خلکو سره د دوی د معلولیت پر بنسټ تبعیض نه کوي.

### اغیزناکې اړیکې

DCYF به د غوښتنې په صورت کې د معلولیت په شرایطو برابرو کسانو ته مناسبې مرستې او خدمتونه وړاندې کړي تر څو د اغیزناکو اړیکو څخه ډاډ ترلاسه کړي تر څو دوی وکولای شي په مساویانه ډول د DCYF په پروګرامونو، خدمتونو او فعالیتونو کې ګډون وکړي. په دې مرستو او خدمتونو کې د هغو خلکو لپاره چې خبرو کولو، اوریدلو او لید په برخه کې ستونزې لري کیدای شي په شرایطو برابر د اشاروي ژبې ژباړن، په بریل خط باندې اسناد او معلوماتو ته د لاسرسي او اړیکو نورې لارې چارې شاملې وي.

### په پالیسیو او پروسیجرونو کې اصلاحات

DCYF به په پالیسیو او پروګرامونو کې په دلایلو ولاړ اصلاحات رامنځته کړي تر څو ډاډ ترلاسه کړي چې معلولیت لرونکي خلک د DCYF په ټولو پروګرامونو، خدمتونو او فعالیتونو کې د ګډون لپاره مساوي فرصت لري. د بیلګې په ډول د آیالت په دفترونو کې له خلکو سره د خدمتونو د وړاندې کوونکو حیواناتو ته ښه راغلاست ویل کیږي، په داسې حال کې چې په ټوله کې هلته د حیواناتو ورتګ بند دی.

### د اغیزناکو اړیکو او د پالیسیو د اصلاحاتو څخه د ډاډ ترلاسه کولو لپاره د مرستې او یا خدمتونو غوښتنه ترسره کول

هر هغه څوک چې د اغیزناکو اړیکو او یا په پالیسیو یا پروسیجرونو کې د اصلاحاتو په موخه اضافي مرستې او یا خدمت ته اړتیا لري تر څو د DCYF په پروګرام، خدمت او یا فعالیت کې ګډون وکړي، دوی باید له لاندې کار کوونکو څخه یوه ته هر څومره ژر (د پیښې د مهالویش له وخت څخه 48 ساعته وړاندې) چې کیدای شي خبر ور کړي:

1. د DCYF یو کار کوونکی یا
2. د DCYF ADA همغږي کوونکی
   **dcyf.adaaccessibility@dcyf.wa.gov**
   ټلیفون: 7230-480 (360), د ریلې کاروونکي باید 1-1-7 ډایل کړي

ADA قانون هیڅ وخت DCYF د داسې کار په ترسره کولو باندې نه مجبوري چې په بنسټیزه توګه د پروګرامونو او یا خدمتونو ماهیت بدل کړي او یا اضافي مالي او یا اداري بار پرې تحمیل کړي.

Washington State Department of
CHILDREN, YOUTH & FAMILIES

## شکایتونه

د دې په اړه شکایتونه چې د DCYF پروګرام، خدمت او یا فعالیت د معلولیت لرونکو خلکو لپاره د لاسرسي وړ نه دي، باید مراجعو ته راجع شي:

Karin Morris, د ADA همغږي کوونکی
Department of Children, Youth, and Families (د ماشومانو،
ځوانانو او کورنیو ډیپارټمنټ)
1500 Jefferson St., SE
Olympia, WA 98501
**dcyf.adaaccessibility@dcyf.wa.gov**
ټلیفون: (360) 480-7230
Washington ریلې: 711 یا 1-800-833-6384

د Washington آیالت په معلولیت لرونکو خلکو او یا د معلولیت لرونکو خلکو په یوه ګروپ باندې دوی ته د اضافي مرستو او خدمتونو او یا په پالیسیو کې په دلایلو ولاړو اصلاحاتو په بدل کې هیڅ ډول لګښتونه نه پلي کوي.

په داسې حال کې چې DCYF د ADA د شکایتونو یوه داخلي پالیسي لري، خو دا پالیسي په هیڅ صورت د معلولیت لرونکي شخص لخوا د تبعیض اړوند US Department of Justice's Civil Rights Division (د متحده آیالتونو د عدلیې وزارت د مدني حقونو په څانګه) کې د ADA د دویم سرلیک څخه د سرغړونې، Department of Health (د متحده آیالتونو د روغتیا) او بشري خدمتونو په وزات کې د 504 برخې څخه د سرغړونې او یا د Washington آیالت د بشري حقونو د کمیسیون.

### US Department of Justice (د متحده آیالتونو د عدلیې, DOJ) وزارت د مدني حقونو څانګه

**https://civilrights.justice.gov**

د مدني حقونو د تر پښو لاندې کولو په اړه په آنلاین ډول د راپور ور کولو لپاره له Department Of Justice (د عدلیې وزارت) سره اړیکه ونیسئ:
**https://civilrights.justice.gov/report**

د پوسټ له لارې د ADA د شکایت د ثبتولو لپاره، د ADA د شکایت فورمه ډاونلوډ کړئ:
**www.ada.gov/t2cmpfrm.html**

د شکایت فورمه دې پتې ته واستوئ:

د متحده آیالتونو DOJ – د مدني حقونو څانګه
950 Pennsylvania Ave, NW
4CON, 9th Floor
Washington, DC 20530

### US Department of Health & Human Service, Office of Civil Rights (د متحده آیالتونو د روغتیا او بشري سرچینو وزارت، د مدني حقونو دفتر)

د مدني حقونو اړوند د شکایت د ثبتولو لارښوونې:
**www.hhs.gov/civil-rights/filing-a-complaint/complaint-process/index.html**

د HHS - OCR د شکایت آنلاین پورټل:
**https://ocrportal.hhs.gov/ocr/smartscreen/main.jsf**

د پوسټ له لارې Rehabilitation Act (د بیا په پښو درولو قانون) د 504 برخې اړوند د شکایت د ثبتولو لپاره، د مدني حقونو د تبعیض فورمه ډاونلوډ کړئ:
**www.hhs.gov/sites/default/files/ocr-60-day-frn-cr-crf-complaint-forms-508r-11302022.pdf**

د شکایت فورمه دې پتې ته واستوئ:

د متمرکزې قضیې د مدیریت عملیات

U.S. HHS – 200 Independence Ave., S.W.
Room 509F HHH Bldg.
Washington DC 20201

### د Washington State Human Rights Commission (د واشنګټن آیالت د بشري حقونو کمسیون, WSHRC)

**www.hum.wa.gov**

د پوسټ له لارې د عمومي استوګن ځای اړوند له تبعیض څخه د ډک چلند په اړه د شکایت د ثبتولو لپاره، د عمومي استوګن ځای د شکایت فورمه ډاونلوډ کړئ:
**www.hum.wa.gov/file-complaint**

- د شکایت فورمه دې پتې ته واستوئ:

WSHRC – Olympia Headquarters
711 S. Capitol Way, Suite 402
Olympia, WA 98504

*DCYF* تبعیض نه کوي او همدارنګه د نوکم، رنګ، جنسیت، مذهب، عقیدی، مدني حالت، ملي اصل، جنسي تمایل، عمر، د تجربه کار حالت، یا موجودیت په پام کې نیولو پرته د ټولو خلکو لپاره خپلو پروګرامونو او خدمتونو ته مساوي لاسرسی برابر کوي. هر ډول فزیکي، حسي، یا ذهني معلولیت.

که چیرې تاسو غواړئ چې لدی خپرونې وریا کاپي په بدیل بڼه یا ژبه کې ولرئ، مهرباني وکړئ د *DCYF Constituent Relations* (*DCYF* اساسي اړیکي) سره په *1-800-723-4831* یا بریښنالیک *communications@dcyf.wa.gov* اړیکه ونیسئ.

DCYF PUBLICATION HR_0012 PA (02-2023) Pashtu